مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر نورولي خان نور

۲۰۲۵/۱۲/۱۵

# په افغانستان کې د بهرنیو نړیوالو ژبو

## د تدریس، زدکړو او کارونې په برخه کې د ستونزو بهیر ته لنډه کتنه

**د پیل خبرې،**

پر افغانستان د انګریزانو څو ځلي تیریو او له افغانانو سره د انګلیس/انګریزانو د جګړو تر سره کېدو او په پای کې په ۱۹۱۹زیږدیز کال د خپلواکۍ ترلاسه کولو وروسته؛ په تېره یوه پیړۍ کې په هېواد کې د یوې بهرنۍ نړیوالي ژبې د تدریس، زدکړې او کارونې په برخه کې تل ستونزو او ننګونو شتون درلود او په دې ترڅ کې د وخت واکمنانو له لوري هیڅکله یوه معقوله، ثابته او تلپاتې پرېکړه و نه شوه او وړ چلند تر سره نه شو. د خپلواکۍ د بیا ګټلو له لومړۍ ورځې راهیسې د انګریزۍ ژبې د دود او زدکړې په تړاو تل یو منفي، سوړ او بدبینانه چلند احساس کېده. کله چې په ۱۳۰۱لمریز کال کې د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال په کابل کې د هغه په نوم د (اماني) لومړنۍ او عصري لیسي بنسټ کېښودل شو چې بیا له لسو کالونو وروسته یې نوم په (نجات) لیسه واړول شو، او بیا د داوودخان د جمهوریت په دورې کې بېرته پر همغه پخواني (اماني) نوم ونومول شوه؛ جرمني لومړنۍ بهرنۍ ژبه وه چې په اماني لیسه کې یې په رسمي توګه تدریس پیل شو. همدارنګه فرانسوي* دوهمه نړیواله ژبه وه چې په استقلال دوهمې او عصري لیسې کې پرې په رسمي توګه زدکړې پیل شوې. *(البته د دوهمې نړیوالي جګړې تر پای پورې فرانسوي ژبه د نړۍ د سیاست، اقتصاد او فرهنګ یوازینۍ نړیواله او معتبره ژبه وه چې د دوهمې نړیوالي جګړې د پای ته رسیدو، د امریکې متحده ایالات او انګلستان دوه انګلیسي ژبي هېوادونه د جګړې د ګټوونکو په توګه راڅرګندیدو او د ملګرو ملتونو سازمان د رامنځته کېدو وروسته پرېکړه وشوه چې انګلیسي د لومړنۍ نړیوالې ژبې په توګه او پنځه نورې ژبې؛ فرانسوی، اسپانیوي، روسي، چینایي او عربي د هغو د ویوونکو د ډېر شمېر او کارونې د پراخي ساحې ته په پام سره، د ملګرو ملتونو د سازمان د اصولو سره سم، نړیوالي ژبې وګڼل شي. البته اوسمهال په نیویارک کې ډېرې رسمي سندونه او مراسلات یوازې په دوو ژبو؛ انګلیسي او فرانسوي چمتو کیږي.)

لکه څرنګه مو چې پورته یادونه وکړه، په ۱۹۴۵ز کال کې د ملګرو ملتونو د سازمان د رامنځته کېدو مخکې او را وروسته لږ او ډېر دا یوه پیړۍ په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نړیوالي اداري د اصولو پر بنسټ د شپږو نړیوالو ژبو او له هغو جملې دوو معتبرو او مهمو ژبو (انګلیسي او فرانسوي) ته هیڅکله په ښوونه او روزنه، لوړو زدکړو، اداري او سیاست کې تلپاتې، ثابت، مهم او پیاوړی اهمیت، ارزښت او درناوی په هغه ډول چې اړتیا وه په برخه نه شو، چې همدې بې پروایی، نه پاملرنې، نه جدیت او نیمګړتیا په را وروسته سلو کالونو کې په بېلا بېلو پورتنیو مهمو برخو کې خپلې بدې اغېزې پرېښودې، چې په همدې لېکنه کې پرې په ځینو سیاسي ناخوالو، نیمګړتیاوو، لاملونو او له عصري نړۍ سره د غوره اړیکو نه جوړیدا پر ستونزو تم کیږو.

بېلابېلې واکمنۍ، رژیمونه او پړاوونه،

۱ -د غازي امان الله خان د واکمنۍ راپرزېدو او بیا د حبیب الله کلکاني له نهه میاشتنۍ ګډ وډۍ او بې ثباته واکمنۍ د له منځه تلو وروسته؛ او دا چې پر افغانستان د انګریزانو د یرغلونو او لاسوهنو له امله تل د افغانانو په منځ کې د انګرېزانو پر وړاندې غصه او کرکه موجوده وه، همدغه حساسیت ته په پام سره د وخت دوو ځواکمنو هېوادونو انګلستان او فرانسې چې د اسیا، افریقې او نړۍ نورو مهمو برخو سیمې یې لا د مخه د خپلو سیاسي او اقتصادي ګټو لپاره په خپلو منځونو کې وېشلې وې، په ګډ تفاهم او جوړجاړي سره په دې موخه چې په افغانستان کې پخوانۍ روسیه او ایران مداخله و نه کړي، د لنډمهال لپاره د قدرت نیولو او سیاسي ثبات د ټینګښت پروژه؛ فرانسویانو پر غاړه واخیسته او نادرخان چې پخوا د امان الله خان له لوري په فرانسې کې سفیر ټاکل شوی و او همغه له کورنۍ سره اوسېده، د منظم پروګرام سره سم د هند له لارې افغانستان ته داخل او د واک پر ګدۍ کېناست. په دې توګه یې د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

انګلیسانو سره په خوښه او سلا په غیر مستقیم ډول د غازي امان الله خان د واک، ځواک، اغیز او اصلاحاتو باب او ځېرکی هم وتاړه. د یادولو ده هغه وخت ظاهرخان او داوودخان چې تنکي ځوانان ول، د فرانسي لیون Lyon په ښار کې په پوځي لیسه کې پر زدکړو بوخت وو.

۲ -د پاچا نادرخان له وژل کېدو او په ۱۷ یا ۱۸ کلنۍ کې د هغه ځوان زوی ظاهرخان پاچا کېدو او بیا د هغه د ځلوېښت کلني واکمنۍ تر وروستیو وختونو پورې په ښوونځیو، لیسو او پوهنتونونو کې پر پښتو او دري ژبو سربېره؛ جرمني، فرانسوي او بیا وروسته انګلیسي ژبې هم څه نا څه یا په ټیټه کچه د بهرنیو نړیوالو ژبو په توګه تدریس کېدلې. وروسته د پاچا ظاهرخان د واکمنۍ پر مهال فرانسوي ژبه حتی په رسمي مهمو حقوقي او مدني اسنادو لکه افغاني پاسپورټ، روډ پاس، ویزې او نورو مهمو سندونو کې هم ور زیاته شوې وه. څرنګه چې ظاهرخان او داوودخان په فرانسي کې اوسیدلي وو او زدکړې کړې وې، په سیاسي غونډو، محفلونو او کتنو کې هغوی په فرانسوي ژبه خبرې او مرکې هم پرې کولې. مګر په ور ته مهال، له انګلیسي ژبې سره د بې پروایې او نه پاملرنې سوړ چلند هم دوام درلود.

۳ -د لومړني جمهوریت دورې د پخواني ولسمشر داوودخان د واکمنۍ پر مهال چې کله د انګلیسي ژبې پیاوړتیا ته پام وشو، متأسفانه سیاسي ډګر کې لا د مخه روسي ژبې خپلې ريښې غزولې وې. د روسي ژبې د ګواښ دغو ريښو زغلېدل بیا هم لامل شول چې له انګریزي ژبې سره تعصب، کرکه، غصه او بې پروایي پر خپل

ځای پاتې شي. ځکه چې روسانو هم لکه د نړۍ د نورو سترو ځواکمنو نیواکګرو او زبیښاکګرو (استعماري او استثماري) هېوادونو په څېر؛ د خپلې برلاسۍ/سلطې، پراختیا او ځانغوښتنې سوسیالیستي ناوړه او ناسم نیواکګر او زبیښاکګر سیاست له مخې په لوی لاس غوښتل چې افغانستان هم لکه د منځنۍ اسیا د نورو هېوادونو په شان په یوه بله روسي ژبې سیمه یا حوزه واړوي.

۴ -په ۱۳۵۷ل، ۱۹۷۸ز کال پر سردار م. داوود خان د کمونستانو کودتا سره سم؛ د انګلیسي/انګریزي ژبې سره کرکه، دښمني او ضدیت اوج ته ورسیدل. تر دې پورې چې هغو سیاسیونو، پوځیانو، د پوهنتون استادانو او نورو مطرح شخصیتونو، مأمورینو او څېرو چې په داخل او بهر کې پر انګلیسي ژبه زدکړې کړې وې، او یا یې څه نا څه زده وه، د انګلیس، امریکې او وینه زبېښوونکې امپریالیزم د جاسوس، غلام او د افغانستان د دښمن په نوم او سترګه ور ته لیدل کېدل. تعقیب کېدل او څېړنې او پلټنې ترې کېدې. دا زورول، تنګول، کړول او ناوړه چلند د دې لامل شول چې په انګلیسي ژبه پوه یا مسلط ډېری تحصیل کړې کدرونه له هېواده وتښتي. مګر بل پلو هېښوونکې دا وه چې خپله د خلق دیموکراتیک ګوند مشر نورمحمد تره کي په هند، انګلستان او امریکې کې په انګلیسي ژبه زدکړې کړې وې، حفیظ الله امین هم پر انګلیسي ژبه تسلط درلود او د دې ګوند نور غړي هم له انګلیسي ژبې سره بلد وو.

۵ -په ۱۹۷۹ز کال د روسانو د پوځې او سیاسي تیري سره سم، جرمني، فرانسوي او په ځانګړې توګه انګلیسي ژبه لا نوره هم تر زور لاندې راغله، ځکه د دې ژبو د تدریس تر څنګ په ښوونځیو، لیسو او پوهنتونونو کې د روسي ژبې زدکړه هم پیل شوه. په کابل کې د افغان-شوروي د دوستۍ د فرهنګي مرکز پرانستل شو او د روسي ژبې، فرهنګ او سیاست دود، پیاوړتیا او پراختیا لپاره جدي هلې ځلې کېدې او په دې برخه کې بېلابېل لنډمهال او اوږدمهال کورسونه، تحصیلي بورسیې، پروګرامونه او پلانونه په لاره واچول شول او په ملکي او پوځي برخه کې د لوړو زدکړو لپاره په زرګونو افغان محصیلنو ته په روسیه کې د لیسانس، ماسترۍ او دوکتورا تر کچو د لوړو زدکړو بشپړولو زمینه برابره شوه. پاتې دې نه وي چې که له یوه پلوه په روسیې کې د افغان محصیلنو په لوړو زدکړو سمبالښت افغانستان ته په بېلابېلو برخو لکه طب، انجینئري، کرنه او مالدارۍ، تخنیک او نورو ساحو کې ګټه وکړه او هېواد د پرمختګ خواته روان شو، مګر بل اړخ ته متأسفانه همدې پدېدې د وخت پخواني شوروي اتحاد ته په افغانستان کې د ننه د اغیز او خپلو موخو ته د رسېدو زمینه هم مساعد کړه.

۶ -بل لوري ته، له ډیورنډ فرضي کرښې ها خوا پښتونخوا کې په افغاني ښوونځیو، لیسو او پوهنتونونو کې د افغان کډوالو ښوونه او روزنه د افغانستان د دوو رسمي ژبو (پښتو او دري) تر څنګ په انګلیسي، اردو او عربي ژبو روانه وه، ځکه چې پاکستان په سیمه کې د انګلیس له لوري د جوړ شوي او انګلیس او امریکې د ګټو د ساتونکي هېواد په توګه؛ د ښووني او روزني، لوړو زدکړو، سیاست، پوځ، اداري او اقتصاد په برخو کې لکه د هند، بنګله دیش، چین او نورو اسیایي هیوادونو په شان، انګلیسي ژبې ته اړین، پیاوړی، ثابت او ځانګړی ځای او درنښت منلی او پلی کړی دی او دا اصل د دې لامل شوی چې له لویدیځوالو سره د اړیکو د ګډې ژبې له لارې په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې وده او پرمختګ وکړي. دا په داسې حال کې ده چې په پاکستان کې د هغه هېواد د اساسي قانون له مخې ملي ژبه یوازې (اردو) ده.

۷ -په ۱۹۹۲ز کال د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ د ړنګېدو او پر کابل باندې په پاکستان کې د لویدیځ له بشپړ ملاتړ برخمنو مخالفو دیني او جهادي وسله والو اوو ډلو د مسلط کېدو وروسته، د روسي ژبې زدکړې او چلښت پای وموند، او یو ځل بیا د انګلیسي ژبې زدکړې، دود او پراختیا ته زمینه برابره شوه. که څه هم د جهادي ډلو د مشرانو له جملې د اسلامي جمعیت ګوند وتلی قوماندان احمدشاه مسعود په کابل کې له استقلال لیسې څخه فارغ شوی او په فرانسوي ژبه یې تسلط درلود. همدارنګه د اسلامي دولت پخواني مشران حضرت صبغت الله مجددي په انګلیسي او عربي او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

برهان الدين رباني او عبدالرب رسول سیاف په عربي او اردو ژبه هم خبري کولای شوې او له انګلیسي ژبو سره هم بلد وو. په همدې شان د تنظیمي جهادي ګوندونو دا ټول مشران تقریباً له اردو ژبې سره بلد وو. د طالبانو د اوسنی دوهم ځلي واکمنی ځیني مشران هم په اردو او انګلیسي ژبو تسلط لري، ویناوې او مرکې پرې کولای شي. البته د ۲۰۲۱ ز کال د اګست په ۱۵مه نېټه په کابل کې د طالبانو له خوا د دوهم جمهوریت واکمنی له را پرزېدو وروسته چې نړدې پنځه کاله کیږي، عربي ژبې* ودې، تدریس، زدکړو او کاروني ته یو ځل بیا زمینه مساعد شوې ده. *(البته عربي ژبه نه یوازې چې د شپږو نړیوالو غني او علمي ژبو له جملې څخه شمېرل کیږي، د مسلمانانو سپېڅلی دیني کتاب (قران/فرقان) هم په همدې ژبه لیکل شوی دی، له همدې امله هم په اسلامي نړۍ کې د مسلمانانو د ځانګړي ارزښت او درنښت څخه برخمنه ده. البته د یادولو ده چې عربي یوازینۍ ژوندۍ نړیواله ژبه ده چې یو دیني کتاب پرې لیکل شوی دی. پر پاتې پنځو نړیوالو: انګلیسي، فرانسوي، اسپانیوي، روسي او چینایي ژبو کې د بل هیڅ اسماني دین د سپېڅلي کتاب اصل نسخه شتون نه لري.) د طالبانو لومړۍ او دوهم ځل واکمنی هم چې پر دیني انګېرنو او انګیزو ولاړه ده، د عربي ژبې تدریس او زدکړو ته ځانګړې اهمیت او درناوی ورکوي.) همدارنګه په افغانستان کې له پیریو راهیسي تر دې دمه ټول قوانین د اسلامي شریعت د لاربنوونو او حکمونو سره سم ترتیب او جوړ شوي دي.

۸ -په ۲۰۰۱ز کال کې د نړیوالي ترهګرۍ په وړاندې د مبارزې تر نوم لاندې د امریکې متحده ایالتونو په مشرۍ او د ناټو سازمان د غړو هېوادونو په ملتیا د نړیوال ائیتلاف ملکي او پوځي پیاوړي جوړښتونه او ځواکونه افغانستان ته ورغلل چې دغه پوځي، سیاسي او اقتصادي حضور او جګړې پوره شل کاله (۲۰۰۱-

۲۰۲۱ز) دوام وکړ. د دې دوو لسیزو په ترڅ کې د امریکې او انګلیس د پیاوړي پوځي، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي رول، اغېز او شتون له امله په ټولو ملي او نړیوالو مؤسسو او دفترونو کې د انګلیسي ژبې اهمیت، ارزښت او اغیز د بل هر وخت په پرتله مهم او پیاوړی شو. انګلیسي ژبه د زدکړې، کار موندنې، ملي او نړیوالو ادارو، وزارتونو او سفارتونو ته د جذب، معاش او عاید ژبه شوه. که څه هم په ور ته وخت کې په کابل پوهنتون کې د فرانسوي، جرمني او اسپانیوي ژبو د زدکړو او فرهنګ دیپارتمنتونه هم فعال وو، او تر څنګ یې په همدې برخه کې په کابل کې ګویته انستیتیوت Goethe Institute هم د پام وړ فعالیتونه او خدمتونه تر سره کول. همدارنګه د ۱۹۹۲ز کال، د ډاکټر نجیب الله د واکمنی د راپرزېدو راهیسي د ۲۰۲۱ز کال جمهوریت دوهمي دورې ړنګېدو پورې بیا له هغو افغان کدرونو سره هم سوړ او د نه پاملرني چلند کېده چې یا یې په روسیې کې زدکړې کړې وې، یا یې روسي ژبه زده وه. په یو نه یو ډول دوی ته هم په بده سترګه کتل کېدل، او د کمونستانو یا روسانو جاسوسان، ملګري، پلویان یا همفکره کسان ګڼل کېدل. د حساسیت همدې موضوع ته په پام سره، د ډاکټر نجیب الله د واکمنی د را پرزېدو را وروسته د دوهم جمهوریت تر ړنګېدو پورې ډیرۍ وخت په روسي ژبه مسلط کسانو نه غوښتل چې وښیي په روسي ژبه هم پوهیږي. په همدې شان په عربي ژبه مسلط افغانانو ته اخوانیان او وهابیان ویل کېدل یا هم د عربو د لاسپوڅو او افراطي ملګرو خطاب ور ته کېده.

په همدې شان، باید وواېو چې له ۲۰۰۱ز کال راهیسي تر ننه پورې په لومړي ځل د ترکیې له خوا د افغان-ترک ښوونځیو د پروژې په ترڅ کې د ترکي ژبې زدکړه هم په منظم ډول او ځواک سره دود او پیاوړې شوه. البته د افغان-ترک ښوونځیو د غوره او عصري ښوونځیز نصاب او عالي تدریس له امله د زدکړې د ځرنګوالي/کیفیت کچه هر کال غوره بلل کیږي او په خورا ښه سویه افغان زده کوونکي فارغوي.

پای او پایله،

په افغانستان کې په تېرې یوې پیړۍ کې له نړیوالو او نورو معتبرو او علمي ژبو لکه انګلیسي، فرانسوي، روسي، عربي او جرمني ژبو سره تل سیاسي، تعصبي او بدبینانه چلند د دې لامل شوی چې هېڅکله یوه مهمه نړیواله ژبه په ځانګړې توګه (انګلیسي) لکه د ګاونډیانو او د سیمې نړدې او لرې نورو هېوادونو؛ پاکستان، ایران، چین، هند، بنګله دېش، منځنۍ اسیا، عربي هېوادونو او نورو په شان د ښوونې او روزنې او لوړو زدکړو، سیاست، اقتصاد او اداري د ژبې په توګه د ارزښت، اهمیت او درنښت وړ و نه بلل شي، بلکې برعکس، د انګلیسي ژبې د زدکړې په برخه کې بشپړه نه پاملرنه او نه جدیت د دې لامل شوی چې د همدې ستړې نیمګړتیا له امله ډیری سیاسیون، پوځي لوړ رتبه مشران، د طب ډاکټران، انجینیران، د پوهنتون استادان، دولتي لوړ پوړي کارمندان او نور په انګلیسي ژبه بشپړ علمي او ادبي برلاسی یا تسلط و نه لري او له کبله یې د نړیوال فکر، پوهې، اړیکو، سیاست او فرهنګ سره د تړون او نه تفاهم واټن رامنځته شي او په دې ژبه نه تسلط لرل مو د نړیوال علمي، ساینسي، تکنالوژیک او پرمختیایي انقلاب او کاروان څخه پاتې کړي. د لیسي له ۱۲ کالونو مزل او زدکړو وروسته هم ډیری زده کوونکي پر انګلیسي ژبه تسلط نه لري. حتی له پوهنتون څخه د فارغ شویو محصلینو هم همدا حال و او دی. البته د جمهوریت په تېره شل کلنه ۲۰۰۱-۲۰۲۱ دوره کې چې له یوې خوا له بهر څخه افغان کدرونه د دواړو پخوانیو ولسمشرانو: حامد کرزي او ډاکټر محمد اشرف غني په شمول او د کابینې اکثریت وزیران او د نورو مهمو سترو ادارو مشران له لویدیځ او ګاونډي هیواد پاکستان څخه افغانستان ته راغلل، او بل اړخ ته په هېواد کې د ننه تقریباً په نړیوالو معیارونو برابر خصوصي پوهنتونونو کې لوړې زدکړې په انګلیسي ژبه چمتو شوې، یو څه زمینه برابره شوه چې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په افغانستان کې انګلیسي ژبه دود، پیاوړې، منلې او له اهمیت او ارزښت څخه برخمنه شي. یو شمیر ځوانو افغان سیاسیونو، ژورنالیستانو، ویندویانو، پوهانو، ډیپلوماتانو، د پوهنتون استادانو پر انګلیسي ژبه تسلط پیدا کړ. همدارنګه لکه څرنګه مو چې مخکې یاده کړه، د تیرې نیمې پیړۍ سیاسي بې ثباتی، کړکېچ، تعصب، تبعیض او جګړو له امله ډیری افغانان پاکستان، ایران، هند، د امریکې متحده ایالتونو، کاناډا، استرالیا او اروپایي هیوادونو په ځانګړې توګه انګلستان، جرمني، فرانسې، ایټالیې، اسپانیې او نورو ته کډوال شول، او په دغو هېوادونو کې نوي افغان نسل ته په بېلابېلو مسلکونو او برخو کې د زدکړو او لوړو زدکړو بشپړولو زمینې مساعد شوې او د دغو هېوادونو د غني او علمي ژبو پر زدکړو یې ځانونه سمبال کړي او تر اوسه دا هیله ژوندۍ ده چې د نړیوالې ټولنې په مرسته په افغانستان کې د یوه ملي دولت د ټینګښت او پایښت په صورت کې راتلونکي کې د افغانستان د بیارغولو او جوړولو په پرمختیایي او پراختیایي چارو کې بهر میشتی تحصیل کړی افغان نسل به مهمه ونډه واخلي او ګټور به تمام شي. البته په بهر کې د افغانانو لپاره په خپلو ملي او رسمي ژبو د زدکړو نه شتون او له خپلو ملي ارزښتونو، ټولنې، تاریخ او فرهنګ څخه لرې والی، بې خبري او نه پوهاوی به هم په راتلونکي کې په افغانستان کې یو لوی ټولنیز، فرهنګي او سیاسي درز او ګواښ رامنځته کړي، چې خدای مکړه د یوه بل فکري سیاسي او فرهنګي ټکر او بې ثباتۍ لامل نه شي. هیله ده بهر میشتي افغانان له خپلو اولادونو سره د افغانستان د ملي او رسمي ژبو (پښتو او دري) په زده کولو کې مرسته وکړي. ځکه چې د یوې ژبې سپکېدل او ورکېدل د یوه ملت سپکېدل او ورکېدل دي. د ژبې ژوندي پاتې کېدل د یوه ملت د تاریخ، فرهنګ او ارزښتونو ژوندي ساتل او پاتې کېدل دي.

ډاکټر نورولي خان نور

ستراسبورګ، فرانسه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ